دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ

۲۸ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم-۲۶

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**شپږپنځوسمه مسئله**

داده: چی رسول علیه الصلوة والسلام ویلی: بنی اسرائیل یو اویا فرقی شول، اودعیسی علیه السلام امت دوه اویا فرقی شول اوزما امت به هم دری اویا فرقی شی اوټولی به دوزخ ته ځی مگر یوه ډله به جنت ته ځی اوهغه هم دسنت اوجماعت مذهب دی.

خواجه ابوالقاسم حکیم سمرقندی رحمّه الله ویلی: غواړم چی نومونه یی بیان کړم اوافعال یی بیل بیل شرح کړم ترڅو خلک دوی وپیژنی اوپرهیز وکړی له دوی څخه.

ټول نومونه یی په تفصیل سره دادی:

لومړی: مرجیان دی، دوهم: قدریان دی، دریم شمراخیان دی. ۴- ازرقیان.۵- اخنسیان.۶- ثعلبیان.۷-بیهسیان.۸- میمونیان.۹- جازمیان.۱۰- معتزلیان.۱۱- جبریان.۱۲-باطنیان. ۱۳- لم یزالیان.۱۴- جعفریان. ۱۵- حنفیان. ۱۶- کنیفیان. ۱۷- صوریان. ۱۸- مشبهیان. ۱۹- جعدیان. ۲۰- حسبیان. ۲۱-کوزیان. ۲۲- زیادیان. ۲۳- سارقیان. ۲۴- زیدیان. ۲۵- جهمیان. ۲۶- شاکیان. ۲۷- میلیان. ۲۸- قولیان. ۲۹- رمادیان. ۳۰ شادکیان.۳۱- الجوشیان. ۳۲- بلیتیان. ۳۳- میانیان. ۳۴-سفیانیان. ۳۵- حروریان. ۳۶ عباسیان. ۳۷- حشویان. ۳۸- معرفیان. ۳۹- مجهولیان. ۴۰- مهاجران. ۴۱- خازمیان. ۴۲- معذوریان.۴۳- متولیان. ۴۴- میریان. ۴۵-رقوقیان. ۴۶- تاییان. ۴۷- مغنیان. ۴۸- مسلمیان. ۴۹- اقلیان. ۵۰- فکریان. ۵۱- وادریان. ۵۲- ساطیان. ۵۳- شافیان. ۵۴- مستغنیان. ۵۵-طفلیان. ۵۶- فدائیان. ۵۷- مفروغیان. ۵۸- ملحونیان. ۵۹-ثانیان.۶۰- غالبیان. ۶۱- مقاماتیان. ۶۲- شوقیان.۶۳ –بهیمیان. ۶۴- سیانیان. ۶۵- قیفیان. ۶۶- امریان. ۶۷- وهمیان. ۶۸- مستویان. ۶۹- کلامیان. ۷۰- جبلیان. ۷۱شیعیان. ۷۲-کرامیان. ۷۳- سنیان وجماعتیان وناجیان دی.

اما مرجیان: څوډلی دی، ځینی یی وایی: بنده ایمان راوړ، په هغی امر ونهی نشته. که طاعت وکړی نیک دی اوکه یی ونکړی په هغی هیڅ شی واجب ندی.

اوځینی یی وایی: کله چی بنده وویل: لااله الاّالله محمّد رسول الله هیڅ ګناه هغی ته زیان نه رسوی. اوځینی یی دخپلی مسلمانی په هکله په شک کی دی اووایی: نه پوهیږی چی مومن یاستو اوکه نه؟؟

ځینی یی وایی: نه پوهیږو چی ایمان حق دی یاباطل؟ اومونږ نه پوهیږو چی نن ورځ دخدای عزّوجلّ پروړاندی مومنان یو اوکه کافران؟

وایی: خدای عزّو جلّ دخیراونیکیو پیداکوونکی دی اوابلیس علیه العنه دبدیو پیداکوونکی دی. اوخیر له خدایه اوشرله ابلیس څخه دی اوله خپل تن څخه. اودبدو تقدیر له خدای عزّوجلّ څخه نه ګڼی اوپه همدی سبب ګمراه شول اوهلاک شول.

اما ارزقیان: هغه قوم دی چی وایی: که څوک دجماعت لمونځ اودجمعی لمونځ کوی، اوپه هغی پسی توره په لاس راونه وزی، له زیانکارانو څخه به وی.اودهغوکسانو چی جماعت کوی وژل روا بولی.

اما اخنسیان:

اما اخنسیان: داسی قوم دی چی وایی: هرڅوک چی لااله الاالله محمّد رسول الله ووایی، که فریضی اداء نکړی اومنکروی تری اوحرام حلال او حلال حرام وګڼی نه کافرکیږی. اودوی دخوارجو له ډلی څخه یوقوم دی. له ځینو څخه زکات اخلی اوله ځینو څخه یی نه اخلی اوباک یی نه بولی.

امابیهسیان: دوی هم دخوارجوڅخه یو قوم دی چی وایی: ایمان علم دی، هرڅوک چی علم زده نکړی هغه مومن ندی. په همدی سبب ګمراه شول اوهلاک وګرځیدل.

اما میمونیان. له خوارجو څخه یو قوم دی اودقدر منکردی اوداهل قبلی مرګ روابولی.

اماحازمیان: هم له خوارجو څخه یوقوم دی. دوی قرآن مخلو ګڼی اودقبر له عذاب اوتلی اوصراط اوشفاعت اوحوض کوثرڅخه منکردی اووایی: ماشیعت علی ابن ابی طالب رضی الله ته ایم اودروغ وایی، دوی دابلیس لعین شیت دی.

اما جبریان: داسی قوم دی چی وایی: خیر اوشردواړه دخدای صنع دی. اومونږ ته په هغی کی هیڅ فعل نشته. اومونږ دوچ لرګی پشان یو، اومونږ پخپله نه طاعت کړای شو اونه هم معصیت. په همدی سبب ګمراه شول.

اماباطنیان: دخوارجو څخه یو قوم دی اودوی وایی: ګناه شرک دی اوبنده په ګناه کافرکیږی. او امربالمعروف اونهی عن المنکر.... وینی.

اما میلیان: داسی قوم دی چی له جهمیانو څخه هم منکرتر دی دخدای عزّوجلّ صفاتو لره. اوداسی چی حق تعالی خپله دځان صفت کړی په قرآن کی، اوپه نورو کتابونو کی مقرنه راځی.

اوسفیانان: هغه قوم دی چی دملک دعوی دسفیان اولادی لپاره غواړی.

امارافضیان: هغه قوم دی چی وایی: پیغمبری علی لره وی. اوخدای عزّوجلّ جبرئیل دعلی خواته راواستاوه. جبرئیل په غلطه سره دمحمد خواته راغی. اوډیرنورکفرونه وایی.

ولی فاطمیان: هغه قوم دی چی دملک دعوی دفاطمی بی بی اولادی لره غواړی(رضی الله عنها)

امامعروفیان: هغه قوم دی چی وایی:هرڅوک چی خدای عزّوجلّ په ځینو نومونوونه پیژنی، مومن دی. اګرکه ځینی وپیژنی اوایمان راوړی.

اما مجهولیان: داسی قوم دی چی وایی: خدای لره ډیر نومونه شتون لری. اوهرڅوک چی دهغی نومونه ونه پیژنی هغه کافردی.

اما مهاجریان: وایی: مونږ له خلکو عزلت نیولی اوټول خلک ددوی په نزد کافردی.

اما فکریان: وایی: تفکرکول عبادت دی اوپرته له تفکره هیڅ طاعت عبادت نه بولی.

اماواردیان: وایی: هیڅ مومن دوزخ ته نه ځی اونه هم په دوزخ باندی تیریږی.

اماطفلیان: وایی چی دکفارو واړه ماشومان ددوی سره دوزخ ته ځی.

اما مغروغیان: وایی چی خدای عزّوجلّ فارغ شوی دی دشیانوله پیداکولو څخه. هرڅه چی یی وغوښتل پیدایی کړل. بیانورڅه نه پیداکوی.

اما غالبیان. وایی: مملکت اوامارت غلبی لره دی. هرچاچی بری ومون مملکت دهغودی اودوی تول کافردی.

اماکوزیان: هغهدی چی په کوزه کی بول کوی او خوری یی اووایی مونږګناهکاران نه یو اونورجاهلان دی.

اما کلامیان: وایی: خدای عزّوجلّ له موسی علیه السلام سره خبری نه دی کړی اوتورة اوانجیل اوازبوراوقرقان دخدای خبری نه دی.

امااعضایان: وایی: خدای عزّوجلّ لره لاس پښی اوګوتی شته دی اوپه خپله ایمان کی په شک کی دی.

امالفظیان وایی: خدای عزّوجلّ قرآن محمّد ته ندی استولی اوقرآن ندی ترعرش لاندی. اوپه قران باند کافرشول.

اماصفتیان: وایی چی قرآن دخدای عزّوجلّ صفت ندی اومنزل ندی. اوپه همدی سبب سره کافرشول.

اوکرامیان: داسی قوم دی چی ایمان په خوله وایی اودزه په معرفت یی نه وایی. او وایی حق تعالی یوشخص دی لکه آدمیان چی غړی لری لکه آدمیان. اودوی له دری اویا فرقو بدتره دی اوجاهلتره.

اوعبدالله ابن عمر رضی الله عنهما روایت کوی: چی یوه ورځ رسول صلی الله علیه وسلم مخ حضراتو ابوبکر اوعمر اوعثمان اوعلی رضی الله عنهم راواړاوه او وویل: زما په امت کی وروسته دوه سوه پنځوسوکلو له ماڅخه وروسته داسی قوم پیداشی چی دورځی به روژه نیسی په ریا، اوهغه به یی دام ایښی وی چی خلک پکی ښکارکړی. اوددوی علامات دادی: چی دوی به ژیر مخی وی ولی تورزړی. دخدای تعالی په ذات اوکتاب کی به په جهل سره خبری کوی، اودخدای په کتاب به منکروی اوعلیم به یی جهل وی، اوعمل به یی ریاوی، اوپند به یی فاطل وی، اوحجت به یی داوری وی. اوهرڅوک چی دوی پیداکړی ورسره نه دی کښینی. اوکه دوی سلام ورکړی ، دسلام ځواب مه ورکوی. اوکه ناروغه شی پوښتنی ته یی مه ورځی. اوکه مړه شی دجنازی لمونځ مه پسی کوی، اوهغه چی دوی کوی متابعت یی مه کوی. اودوی کافردی اوفتنه یی ددجال له فتنی څخه صعبتره(سخته) ده اوددوی اوڅوک چی متابعت تری کوی ځای یی دوزخ دی.

پس وویل: چی دوی به دخراسان له سیمی را پیداشی، اوهغه چی دوی له لاری باسی هغه به دسیستان وی. اودوی داسی قوم دی، چی ورته کرامی وایی. اودوی هم دمرجییانو له ډلګی څخه دی. اودوی ته موسوس هم وایی اوهغه محمد کرام هم بولی، هغه څوک چی دوی دما په نامه بولی زما ندی، اوزه دده نه یم. ځکه چی هغه زما دین بدلوی اوزما دسنتو منکرکیږی. اوایمان اقرار بولی پرته دزړه له تصدیقه.

پس وویل: چی په دوی اوددوی په متابعینو دی دخدای عزّوجلّ لعنت اودفرشتګانو اوآدمیانو لعنت وی.!

روایت کوی له ابوعلی محمد ابن موسی الفقیه څخه چی هغه وویل: دمدینی عالمان سره راټول شول اواتفاق یی وکړپه دی چی امتان په ۱۲ مسئلو سره کافرشول:

لومړی: وویل چی په مصحفو(کتابو) کی قرآن ندی اودځمکی پرمخ دقرآن تنزیل نه منی.

دوهم: وویل چی دمنافق ایمان تمام دی. ځکه چی دوی معرفت ته ایمان نه وایی، اوپه اقرار بسنه کوی اودزړه تصدیق نه منی. اوکرامیان اومنافقان دواړه په ایمان کی سره یودی اوبرابر. ځکه چی منافق ته دبشپړ ایمان خاوند وایی.

دریم: وایی چی ایمان دپیغمبرانو په زړونو کی نه و.

څلورم: وایی چی رسول صلی الله علیه وسلم چی کله ژوندی و پیغمبرو.اوس چی په قبرکی دی ، پیغمبرندی .

پنځم : وایی چی کله رسول صلی الله علیه ژوندی و حجت و اوچی کله یی فرمان ترلاسه کړ حجت یی هم ختم شو.

شپږم: وایی چی دخدای پیژندنه فرض نده.

اووم: وایی چی حسین ابن علی رضی الله عنهما باغی و اوحق دیزید په لاس کی و.

اتم: وایی چی خدای عزّوجلّ بنده ته په خپله پیژندنه سره ثواب نه ورکوی اودمعرفت منکرته هم عذاب نشته.

نهم وایی: چی پرځمکه دری شیان نشته:دخدای علم اوقدرت اوکلام نشته.

لسم وایی:هرڅوک چی له لمونځ ، طهارت اوزکوة اوحج اودجنابت له غسل څخه منکرشی، هغه نه کافرکیږی.

یوولسم وایی: خدای عزّوجلّ لره پرته دالله له نامه څخه بل نوم نشته. اوخدای عزّوجلّ وویل: قُل ادْعُو اللهَ اَوِدعُو الرّحمانَ اَیاًّماً تَدعُو فَلَهُ الْاَسمآءُ الحسنی. اوبل ځای فرمایی: وَلِلهِ الاَسمآءُ الحُسنی فَادعُوهُ بِهَا.

اورسول صلی الله علیه وسلم وویل: چی خدای عزّوجلّ لره ۹۹ نومونه دی، هرڅوک چی هغه ووایی جنت به ځی. اوپه خبرکی دی چی خدای تعالی لره ۱۰۰۱ نومونه شته دی.

دوولسم: کسب حق نه وینی. اورسول علیه الصلوة والسلام وویل: هرپیغمبرلره یوکسب و، زما کسب درویشی اوجهاد کول و. اورسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی دحلال رزق په طلب پسی وی ترڅوخپل عیال ته نفقه ورکړی اودهغی لپاره چاته لاس اوږد نکړی اوپه ګاونډیانو مهربانه وی، حق تعالی به له ده څخه خوشحاله وی.

دیارلسم: وایی چی دخدای عزّوجلّ قول مخلوق دی، هرڅوک چی له دی دوولسو شیانوڅخه یو ووایی اوپری اعتقاد وکړی هغه کافردی.

داموچی وویل ددوی نومونه اوافعال و.اوله دی پرته ډیرنوخباثتونه هم لری چی یاد نکړای شول.

حق تعالی دی مونږ په سنت اوجماعت سره ټینګ ولری اوله بدعت اوضلالت څخه مودی لیری وساتی اوپه سمه لاره مودی راهنمایی کړی. آمین